Afghanistan Digital Library

adl0023

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# نظامنامه

# د تشویقیه صنایع

(د لوی دولت د افغانستان)

په (۱) د (عقرب) ۱۳۰۶ شمسی

په مطبعه د «شرکت رفیق» ماشینخانه د کابل
کښې چاپ شویدی

شمار د چاپ :- ..............(۵۰۰)

قیمت د یوی نسخې (۳۲) پول

بسم الله الرحمن الرحيم

# کاروا او کسبونه شوق راوستونکی نظامنامه

## اوّل فصل

### عام حکمونه

(۱) قاعده — هغه ورمی او لوئی ماشینخانی چه د تابعانو د افغانستان له خوا په نته د ملک کښی لپاره د جاری کولو د یو خاص کسب وکار، جوړیږی د دی نه لاری معافیات توغښه فائده آخستی شی!

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 3 of 20



(۲):- د ماشین خانې چه پاس یادې شوې او
سم له دې نظامنامې سره معافې آخلي، ضرور
او لازم دي چه کم له کمه په واسطه د داسې
"موټرونو" چه قوّة د پنځه آسه یا زیاد له دې څخه
ولري، اجراد کارو کړي.

(۳):- برسیره په دا باندې شمار د مزدورانو د دې
ماشینخانې هره ورځ له دوه تنو څخه، یا په مدة
د یو کال کښې روزانه شمار د کاریګرانو د ماشینخانې
له شپږ سوه نفر یو څخه لږ نه وي.

(٤):- هغه ماشینخانې چه د دې نظامنامې له معافیاتو
څخه فائده مونډلی شي په دې قرار سره دي:-

الف- هر قسم هغه ماشینخانې د کارو او د کسبو
چه "غیر معموله" شیانو څخه نیم "معموله"
جوړه وي، لکه هغه ماشینخانې چه له
پنبې څخه تار او اپښکې وړلشي.

ب:- هغه ماشین خانې چه "نیم معموله" شیان
تخنه پوره "معموله" جوړه وی لکه هغه
ماشینخانې چه له وړیشلو اسپینسو ځنی توکي
اوړختونه جوړه وی.

(٥):- هغه تابعان د افغانستان چه له هغه خلقو
سره چه د بهر د دولتو تابعان دی، شریکی وکړي،
په تنه د افغانستان کښی په قسم د دی ماشینخانو
چه پاس ذکر شولی، کُمَه ماشین خانه جوړه
کړی، دوی هم له دی معافیاتو ځنی فائده
مونده لای شی، مګر دومره دی چه محکمه د
ماشینخانې او د ماشینخانې کوټی په لاس کښی د
د افغانستان د تابعانو وی - او د اخلق چه د
بهر د دولتو تابعان دی او د افغانستان تابعانو
سره شریکي کوی، په پیروی او متابعت
کولو د ټولو هغو نظامنامو او قاعدو د مالیه

دافغ
دی ن
عمل
چه په
علی
ایښود
اوخل
(٦):-داخ
داغا
وویني

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 5 of 20



د افغانستان چه هوس جاري دي یا پس له
دي نه جاري کیږي، مجبور دي چه پر
عمل وکړي • او ټول هغه خبرې او جګړې
چه په منځ د رعیتو او د دوی کښ پېښې شي په
علیحده محکمو کښ د افغانستان سم له
ایښودلی شوی، قاعدو د دولت د افغاني فیصله
او خلاصیږي.

(۶):- داحق د شریکی د تابعانو د خارجي، حکومت
د افغانستان هر کله چه ضرور او لاز
ووینی، موقوف یا محدود کولای شي

## دُوَیم فصل

### کومکونه، مُعافیات

(۷):- هغو کسانو ته چه د جوړه ولو د دو، پاس ذکر شویو ماشینخانو خوښ اختیار ورکړی، د دولت له خوا هغه، مځکی چه ماشینخانی له وه په کاروی، بی له آخستو د قیمت ورکولی کیږی، آخری اندازه د دی مځکو پنځه جریبه دی،

(۸):- په هغه صورت کښی چه مځکی زیاد له پنځو جریبو ځځه په کاروی، اضافه د دی مځکی که چیری د دولت وی، د دولت له خوا، او که د خلقو وی له هغو ځځه په نقله ی پیسی آخستی، او په قسط د لسو کالو لپاره د هغه کسانو چه ماشین خانه جوړه وی، له طرفه د دولت ورکوله کیږی.

(۹): پاره د کوټی جوړه ولو د ماشینخانی او پاره
د داوړو لو د موټرو ماشین او نور لازمی شیان،
هغه سړی چه خواهش د تقاوی پیسی له دولت
څخه وکړی، سم له تامل د نظامنامی د تقاوی
د سود اکړی سره د دولت له خوا ور ته تقاوی
ورکوله کیږی.

(۱۰): محصول د مالیات د محکی د ماشین خانی
لکه محصول د صفائی او بلدیه تکلیفونه او
نور شیان تر لسو کلو پوری معاف دی.

(۱۱): د ماشین خانی موټرونه او لکه آتشی خښتی
او اوسپنه او نور هغه اسبابونه او شیان
چه په ننه د افغانستان کښ برابر له قیمتو
د خارجه مال سره نه پیدا کیږی تر پنځو
کلو له محصوله د گمرک څخه معاف دی

(۱۲): هغه مصالح چه په سبی په کاریږی او د نکی

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 8 of 20



نورشیان چه لپاره د اجراد کار د ماشینخانی لازم
او ضرور ولیده شی او په تنه د افغانستان کښی
پیدا کیده د هغه ممکن نه وی، په هغه اندازه
چه په کار او لازم دی، تر مدّة د پنځو کلو له محصوله
د گمرک څخه معاف دی.

(۱۳): حکومت د افغانستان د خپل دولت کار و ته
هغه شیان او اسبابونه چه په دغو ماشینخانو
کښی جوړ شویوی ترجیح ورکوی او ئې اخلی
او که یو ضروری د بهرڅ کار پیښ نه شی حکومت
به له دوه د اخلی، ماشینخانو څخه هغه شیان چه
حاجت ورته لوی او په کار ئې دی، په ترتیب سره
سره له نرخه د بازار او په نقدی پیسی بانکی
اخلی او دغو ماشینخانو به ضمانت کوی

(۱۴): لپاره د ساتنه د داخلی ماشینخانو حکومت د
افغانستان گمرکی محصول د هغو مالونو

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 9 of 20



چه په قسم د هغه په ننه د مملکت کښې جوړېږي
سم له اندازې د حاجتمندې د وطن محصول د هغو
زیادېږي، او یا داخلول د داسې دا زشیانو
له بهر نه موقوف کولای شي

(۱۵): د لپاره د شوق ورکولو د داخلي کسب او کار د
هم حکومت داسې لوي، چه محصول داخلات
د هغه جوړ شوي مال د داخلې چه بهر ته لېږل
کېږي، کم، یا بالکل موقوف کړي

(۱۶): هغه کسان چه په ننه د مملکت کښې ماشینخانې
جوړه دي، که لازم او ضروري ووینې لپاره د
جوړه ولو د کوټې د ماشینخانې او لپاره د جاد
او اداره کولو د ماشینخانې او لپاره د ښوولو د کا
له بهر څخه لکه انجنیر او نور کسان راوستی
شي او لپاره د کاریګرو د څلي ماشینخانی
د کار تعلیم ور کولی شي، که لپاره د کسب

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 10 of 20



په خدمت د حکومت کښې ځانته انجنير
موجود وی، څښتن د ماشينانو له هغه څخه هم
په واسطه د حکومت سره کار آخستلای شی.

(۱۷):- وزارت تجارت په واسطه د هغو سفيرانو او قونسلانو
چه د مونږ په بهر کښې دی، يا په واسطه د
هغو سړيو چه وزارت تجارت له خوا سوداګرۍ ته
مقرر دی، لپاره د راوړل د ماشينو او نورو ضروری اسبابو او
لازمی شيانو تابعانو د افغانستان ته او هر رازی
کومک ورکول او آسانی پيدا کول دوی ته
مکلف او موظف دی.

(۱۸):- هغه لوی ماشينونه چه په واسطه د يابو او اوښانو
راوړی نشی د حکومت له خوا کومک ورکاوه
اوپه لږ او مناسب کراهيه سره په واسطه د
فيل کاډی او لاری موټرونه او نورو شيانو بار او
راوړل کيږی.

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 11 of 20



## دریم فصل
## د اجازه آخستلو تقاوی

(١٩):ــ هغه کسان چه سم له پاس روښانه بیان شوي
فاعل د سره خواهش او خیال د اجراء د کړکارا
کسب وکړي په واسطه د یوی عریضی سره پخواه
له معلومه اداره ملة د تقاوی څنی چه په خاصي
نظامنامی د هغی کښی ښکاره بیان شویدی په ولایتو
کښی مجلسو د مشاوره د مرکزی د هغه ځای
ته عرض کوی مجلسونه د مشوری پس له قرارداد
څخه د دوی عریضی نائب الحکومګیو او اعلی حکومتیو
ته سپاری او هغوی به د وزارة تجارت څخه منظوری
د قرارداد د دوی حاصلوی په وقت د تقاوی کښی
به ئی اجراکوی !

(٢٠):عرض کونکی په عریضه کښی اول به خپل نوم

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 12 of 20



او کړ شریکانو لره نومونه د شریکانو - اوکه
مکمله وی پرتقشه د ماشین خانی او دوهم جنس
د ماشین او هغه اسباب او شیان چه په کارئی وی
سره د قیمت د هغو، دریم جنس د «معمولاتو» او
اندازه د معمولاتو - او شمار د مزدورانو چه په یو
کال کښی د ده په کار کیږی، سره له اندازه
د «تقاوی» چه له سرکار نخه ئی غواړی، بیل بیلے
به ئی لیکی.

(۲۱):- ترملاته د یوی میاشتی مجلس د مشوری ته
لازم دی، چه نیاره د عرض د دی عرض کوونکی
یو قرارداد ورکړی، او عرض کوونکی پری
پوه کړی، او که په دی مدت کښی ځواب ور
نه کړشه، یا د شوړلو او د نه ورکولو د تقاوی
جواب ورکړشه، وزارت تجارت ته به عریضه
خپله وړاندی کوی، او په خلاف د قرارداد

د مجلس د مشورې اعتراض کولای شي!

(۳۲)- وزارت تجارت په مدّت د یوې میاشتې کښې په قرارداد کول په باب د دې عریضې کښې موظّف دی- که په دا مدّت کښې د وزارهٔ تجارهٔ له خوا څخه قرارداد ورنه کړشي، یا جواب د منلو ورکړشي، عارض د شورای دولت ته ورتلای شي، شورای دولت به هم په مدهٔ د یوې میاشتې کښې یو قرارداد ورکړي او حضور د اعلیحضرت ته به ئې عرضوي.

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 14 of 20



## شپږم فصل
## جزائیه حکمونه

(۲۳) هغه کسان چه له تاریخه د اخستلو د امتیاز
پر مدت د دری کلو کښی ماشینخانه
خپله نۀ جوړه کړی او په کاربانډی شروع
نه کړی، هغه محکمه چه ده ته ورکړی شوی
سره له تقاوی وړشی بیرته اخستله کیږی،
او که په دی مدة کښی ئی څه محصول د بهرنی څخه
مال راوړی وی اندازه د محصول د هغه هم
ور څخه اخستله کیږی.

(۲۴) هغه کسان چه پس له جوړه ولو د ماشینخانی
خپلی پر وقت د کار کښی بی له یو معقول سببه
په کار کښی معطلی وکړی، چه په مدة
د دری کلو کښی ئی له وزارة تجارة څخه تصدیق

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 15 of 20



نروی آخستی، هغه معافیات چه په دی تطامتاجی
کښی درج دی، ساقطیږی، او هغه محکه چیر
ده ته سره لر تفاوی ورکړی شوی دی، بیرته
ورځنی آخستله کیږی، په دی صورة
او په صورة د (۲۳) مادی کښی که څښتن د
ماشینخانی سرکاری محکه بیرته ورکولی نه شی
هغه قیمت د دی محکی چه په وقت د ورکولو
د دی کښی شوی دی له هغه څخه غوښتنه او
آخستله شی.

(۲۵) یکه معطلی د ماشین خانی په یو معقول سبب
سره وی او د وزارت تجارت له خوا تصدیق
شوی نه وی، څښتن د ماشین خانی شوداے
دولت ته ورځی او پر خلاف د قرارداد د وزارت
تجارت باندی اعتراض کولای شی محکمه
د هغو ماشینخانو چه په مدت د لسو کلو کښی

http://hdl.handle.net/2333.1/w9ghx3nw Image 16 of 20



پلټپسي په کارکښي ئې معطلي نه وي کړي، پس له
لسوکلو دا مځکه له ښتنو څخه په سرسره همله
محکمه يا عوض د هغې په هيڅ صورت بيرته
نه آخستله کيږي.

(۲۶) پښتنې د هغو ماشين خانو چه له دې نظامنامې
څخه فائده آخلي مجبور او مکلّف دي چه په
اول د هر کال کښي يو داسې جدول
چه لاندې ئې ذکر کيږي جوړ او نائب الحکومه
يا اعلى حاکم ته دوي وړاندې کړي، دا نمونه د
جدول د وزارت تجارت له خوا څخه جوړ
او نائب الحکومه او اعلى حاکم ته ليږل کيږي
په دې جدول کښي دا لاندې مادې تحريريږي:-
الف:- مقدار او اندازه د هغه خام او نيم عمله
موادو شيانو چه په مدّة د يو کال په ماشين خانه
کښي بښندل کيږي.

ب:- اثاثه د هغو شیانو چه له دې مواد و څخه
جوړ شوی وی.

ج:- شمار د کاریګر نفریو او د مخصوصه سمیو
له قسمه د انجنیر او باشی د هغه.

د:- روزنامه سیاهه د هغو کاریګرو چه
په مدة د یو کال ماشین خانه کښې ئې
کار کړیوی.

(۳۷): هغه څښتن د ماشینخانی چه په سر د کال
کښې په مدّت د دری میاشتو کښې دا
جدولونه نائب الحکومه او اعلی حاکم ته
نه ور کوی - له پنځوس روپیو تر سلو روپیو پورې
په نقدی جزا سره حکم پری کیږی که له
سر د کال نه تر تورو دری میاشتو پوری، او بس
له خبر ورکولو د نائب الحکومه یا اعلی حاکم
په تکرار سره ئې نه ور کوی - لپاره د دې

کال د دې نظامنامې له معافیاتو څخه فائده مونده نشی

(۲۸):- د وزارت تجارت ماموران به پلټنه د ماشینخانو
کوی، او صحت د دې جدول چه پاس یاد شه
هر کله ئې چه ضرور وویني بشه تحقیقات او
علم آوری کولای شي، هغه مامورین
چه شخص د دوی په قسم د پلټنه معلوم وی
که د ماشینخانې د څښتن له خوا له پلټنې څخه
منع کړه شي، له دوی څخه له سلو روپیو تر دوه
سوه روپیو پورې نقدي جریمانه اخستله شي

(۲۹):- که په منځ د دې تحقیقاتو کښې معلوم شي
هغه خام او نیم معموله شیان چه د ماشینخانو
د کار آمد لپاره ئې محصوله داونهی شوی وی،
له اندازې د معموله شیانو او له اندازې څخه
چه ماشین خانې کښې جنساً موجود وي کم دي
یعنې زیاد له کار آمد د هغه څخه په قسم تلوین

ابي محصولونه بل چیرته ووړي، قیمت د هغه مال له هغه څخه جبراً

آخستل کیږي

(۳۰): نقل هغه شیانو چه لپاره د کار آمات د ماشینونو او محصولاتو له بهرنه د مملکت راوړل

شویدي، پس له اجازه او لیدلو د مامورینو د گمرک نه ضرور او لازم دي چه سه دلا

ماشینونو ته اړ وي شي، او مخصوص د ماشینونو د کارونو دي وښندلي شي

د ماشینونو خواهش لري د دا معاشونو شیانو، بل شیانو خرڅ کړي، نو

د دوي بانک چېر ضرورت دي، چه کاروبار د گمرک ته خبر ورکړي - او محصول

د هغه مصرف سم له نظامنامه د گمرک سره ورکړي - که دا شیان په قسم د کړي

نو شاکس ... شول - دا شیان د دولت له خوا سم له قانونه د گمرک

ضبط کیږي.

(۳۱): پس تطبیق د برابره ول او چلول د حکومت د نظامنامو او د وزارت تجارت موظفي

ناخلول د حکومت د نظامنامو په جمله نظامنامو د دولت کېښي

منظور کړه.